درویش وردک

۲۹ دسمبر ۲۰۱۶

## یوشپیتم مجلس(دانسان په خواطروکی)

### دریمه برخه

شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) وړاندی داسی وفرمایل: کله چی بنی اسرائیلو په تورات عمل ونکړ، خدای پاک ددوی زړونه مسخ کړل اود ډېری پشان یی سخت کړل، اودرحمت له درګاه څخه یی طرد کړل، تاسو هم دمحمّد(صلی الله علیه وسلم) پیروانو یوه شی چی هرکله مو په قرآن عمل ونکړ اودهغی احکام مو ترسره نکړل، دزړه په مسخ اودحق درحمت له بابه به طرد شی. زیاروباسی چی له هغوی څخه نه وی، چی خدای پاک دوی دعلم په شتون کی ګمراه کړل، پاملرنه وکړی او هوښیار اوسی.

که مودخلکو لپاره علم زده کړی، نوپوه شی چی دخلق بنده یاست، اوددوی درضا په لوری کارکوی، ولی که مودحق درضا لپاره علم زده کړی وی، ستاسو اعمال به هم دخدای درضاپه لوری وی. که موعلم ددنیا لپاره وی، عمل به هم په هماغه لوری وی، اوهمدارنګه که دآخرت لپاره وی، نودهغی په لوربه عمل هم وکړی. یوه شی چی ښاخونه په ریښوباندی زرغونیږی، او فرع تابع داصل ده. هرډول چی عمل وکړی، همدارنګه به له تاسو سره هم عمل وشی،له ګړی هماغه راتوئیږی چی پکی وی، تادوجود په لوښی کی نفرت کرلی اودپاداش انتظارهم کوی!! اوسبابه وګوری چی له هیڅ ډول کرامت اوبزرګی څخه نه یی برخورداره، اوداتازه دامرظاهر دی. عبادت دجنت عمل دی، اومعصیت داور عمل دی، ولی دی څخه هم مه غافلیږه چی دپړدی شاته داسی اسرارشته چی څوک پری خبرهم ندی،څکه ډیرامکان لری چی یو کس پرته له نیک عمل څخه هم رستګار(ژغورل شوی) شی، اوبل په نیک عمل سره داورګرفتارشی (**فعال لمایرید**)-( **لایُسْأَلُ عَمَّا یَفْعَلُ وَهُمْ یُسْأَلُونَ**»). هرکله که متعال خدای اراده وفرمایی چی یو پیغمبراویا یو صالح کس اورته واچوی، داعدل دی، اوپرمونږ لازمه ده چی ووایو دا درسته ده، اوژبه په چون اوچرا خلاصه نکړو.

هغه څه چی وایم واوری اودهغه په هکله فکر اوسوچ وکړی اوتعقل وکړی. زه دهغو په نسبت چی وړاندی تللی احترام لرم، زه دهغوی سره یم،اویوه یم چی رحمت اوبرکت دخدای له لوری دی. درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) دمتابعت په برکت اودپلارمورسره په نیکی کولو، زه یی دبښنی لایق بللی یم.

خدای دزما په پلار رحمت وکړی، په هغه کمینی چی درلوده یی له دنیا بیزاره و، اوموری هم دهغی متابعت کاوه، اوپه زهد اوکناره ګیری یی خوښ و، څکه دواړ دصلاح له اهل څخه واودخلکو پروړاندی مهربانه، اوزه ددوی دواړو

مهربانانو په پالنه نعمت اورحمت ته رسيدلی يم، اوداسی ايقان ته رسيدلی يم چی دتول مخلوق څخه يوازی محمّد رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته نظرلرم اوبس، اوله ټولو ظاهری اربابانو څخه بيزاره يم، اويوازی په ريښتينی ارباب يعنی په الهی اقدس ذات باندی تکيه لرم.

ای عالمه! ستا وينا ستا په ژبه ده اوزړه دی تری بی خبره دی، ستاوينا صورت دی اوله معنی څخه تش دی. پوه شه چی سالم زړه له هغه ګفتاره چی يوازی په ژبه وی ،بيزاره دی، زړه د هغه داستماع په وخت دهغی الوتونکی په شان دی په قفس کی، اويا منافق په جومات کی، چی دواړه دتيښتی په حال کی دی. هرکله که يوله صديقينو څخه يوه مجلس ته ننوزی چی منافق عالم په وينا وی، دهغی يوازينی آرزو دهغه مجلس وتل دی. قوم داسی نښانونه په لاس کی لری چی منافقين او دورغجن اودخدای دښمنان په هغه سره پيژنی. دمنافق علامه په ځيره اووينا کی ده، اوله صديقينو څخه داسی تيښته کوی چی له زمری څخه يی کوی. له هغی ويريری چی مبادا په خپل درونی اورکی وسيځل شی.ددوی شرله صديقينو اوصالحينو څخه دفع کيری. دوی دعوامو پروړاندی بزرګان دی، دهغی مکاری ګيدړی په څيرځان ښئی، دارزښت اوبها درلودونکی ندی. صديقين ديزدانی جلال په نورسره ليدنه کوی، نه دظاهری سترګوپه نوراويا دلمراوسپوږمی په نور، دغه نورعام دی اوخدای لره ځانګړی نوردی، چی وروسته داحکامواودحکم له اتقانه هغه بندګانو ته ورکول کيږی چی دکتاب اوسنتوپيرووی.

**لويه خدايه، خپل حلم اوعلم زمونږ روزی وګرځوه. آمين**

ای منافقينو! خدای دی تاسوته برکت نه درکوی اوخدای مومه ډيروه، ستاسو ټولی چاری دځان اوخلکوترمنځ په عمران اوآبادی اودځان اوخالق ترمنځ داړيکو په ړنګولواوخرابولو لګولی. لويه خدايه ما په دی منافقينو مسلط وګرځوه، ترڅو دځمکی مخ ددوی له لوث څخه پاک کړم، دمنافق علامت په دی دنيا کی دادی چی زما خواته نه راځی،زما سره په مخامخ کيدو سلام نه کوی، اوکی يی احتمالا سلام وکړ، نودناچاری اوتکلف له مخی به وی.، ددوی عقايد سست بنسټه دی اوديوالونه يی ړنګ شوی. لويه خدايه زما سره مرسته وکړه ترڅو ددوی دغه ديوالونه بيا ورغوم. ای منافقينو پوه شی چی دهغو جوړونه ستاسو په لاسو کی نده،ځکه دکرامت اوبزرګواری درلودونکی نه ياست. څرنګه کولای شی چی ددين ورانه شوی مانۍ بيا ورغوی، پداسی حال کی چی هيڅ ډول آلت اووسيله په لاس کی نلری.

ای نادانانو! لومړی ددين دبنا په فکر کی شی، اوبيا بلی مانی ته لاس واچوی. هرکله که زما خواته راوګرځيدلای نوتاسوبه دخدای لورته راهنمايی کړم، ځکه زه دخدای په ياری اونصرت متکی يم.سرغړونه مه کوی، خدای په اموراتو غالب دی. ديوسف (عليه السلام) ورونو دهغی دوژلو قصد درلود، ولی څرنګه چی خدای نه غوښتل،بريالی نه شول، څرنګه دوی کولای شوای چی هغه څوک ووژنی چی په ازلی علم کی مقرره وه چی پيغمبراوپادشاه شی، اوکه ديوه له صديقينو څخه غواړی هلاک کړی ،نو ستاسو لاسونه دی کارته لنډ دی، که مې دخدای له لوری فرمان ترلاسه کړی وای، ستاسو يويو به مې معرفی کړی وای. الهی حکم دټولو اموراتو بنسټ دی، په هرحال اوهرزمان اودهرکارپه ترسره کولو کی.

داولياء الله قوم له خلکو نه ويريږی، ځکه دوی دحق دحمايت په کنف کی دی، دخپلو دښمنانو څخه باک نلری، ځکه پوهيږی چی ډيرژربه هغو دغوڅو لاسونو اوپښو سره وګوری. سپينه خبره ده چی دخدای اراده نه وی هيڅوک هم دبل کس په وژلو ندی قادره، فقراوغنی، نفع اوضرر، مرګ اوژوند، پرته دخدای څخه دبل چا په لاسونو کی ندی، دخدای دوستان دشرک د درانده بارڅخه آسوده دی،اودانس مقام ته رسيدلی، دغيب عالم له انعاماتوڅخه ګټمن دی، دی ته اعتنا نلری چی دنيا وی يانه وی، آخرت شته اويا نشته،آيا خيراوشرشته اوکه نه، دکارپه پيل کی له دنيا اودشهواتو له مزوڅخه

زهد کوی، ولی کله چی دغه کارادامه ومونده، نوررنځ اوتعب نه پاتیږی، بلکه له هغوی څخه زهد اولیری والی ددوی طبع اوسرشت ګرځی.

دطاعاتو اوعباداتودرنځ تحمل له دوی څخه زده کړی، له معاصی اوګناهونو څخه پرهیزوکړی، ترڅو دغه رنځونه ستاسوطبع اوسرشت وګرځی،دخپل پالونکی ربّ دستوراتو ته غوږشی، هغه په کارواچوی، اخلاص ولری ترڅومطلوبی نتیجی ته ورسیږی.

(ای دخدای بنده) ته سرترپایه نفس اوطبع یی، ته دی زنانه و اوماشومانوهمناستی یی، اومدعی یی چی هغوی ته پاملرنه نکوی، ته دروغ وایی، ستا عمل دشرعی داحکاموسره سمون نلری، وچ لرګی دی داورترڅنګ ساتلی، چی په ناچاره به اوراخلی اوستا ددین کوربه وسیځی. دشرعیت انکار دومره پراخوالی موندلی چی یوتن نه موندل کیږی، چی منکرنه وی!! لومړی په خدای ایمان اوپیژندنه حاصله کړه، اوبیا دحق په نیابت دخلق په طبابت لاس پوری کړه!

وای پرتا! حیرانی ده! څرنګه له مارسره دی تماس حاصل کړی، پداسی حال کی چی له دی کاره بی خبره یی اودزهرو نیش دی هم ندی خوړلی؟

لال څرنګه کولای شی چی نوروته زده کړه ورکړی؟ دجاهل ددین دپایداری سره څه کاردی؟ چاچی دربانی نه وی کړی کله کولای شی چی څوک دپادشاه درګاه ته رهنمایی کړی؟ ته دخدای په پیژندنه اودهغی په قرب بندګانو ته ،جاهل اوبی خبره یی. دخدای صنع اوکاریوازی خدای پوهیږی اوبس. له ماواوره اوویی منه، زه الی الله ته داعی اودخلکو ترمنځ درسول نائب یم، زه عامل اوفرمان وړونکی اوستاسو دهدایت مامورریم.

دادنیا فانی اوتلونکی ده، دآفاتو اوبلایاو کوردی، هیڅکله یی دچالپاره خصوصا دحکمت داهل لپاره صفایی نه درلوده، څرنګه چی ویل شوی دی، دحکیم سترګی اوهغه چی تل دمرګ په یاد وی، دنیا ته نه ګوری، څوک چی یو څیرونکی حیوان ترڅنګ ولری څرنګه کولای شی چی هوسا اوسی،اوسترګی یی خوب ته لاړی شی؟ ای غافلانو، قبرهغه څیرونکی چی تیره غابنونه لری دفرمان په انتظاردی، او البته له زروکسانو څخه یوله دی سراوحکمت څخه خبردی اودغفلت له خوبه راویښ شوی.

دکارپه پیل کی ناچاره چی یوصنعت پیداکړی، ترڅو دهغی پواسطه خپل ژوند ته ادامه ورکړی اوایمان دی قوی شی، اوکله چی دغه کارته دی ادامه ورکړه، خدای به دی دتوکل مقام ته پورته کړی اوپرته له سببه به درته روزی درکړی.

دژوندانه وسایل په دوه لارو باید ترسره شی، یو په کسب اوکاراودشرعی داحکامو مطابق، اوبل په توکل. وای پرتا ، له خدایه شرم نه کوی چی کاراوکسب دی خوشی کړی اودسوال لاسونه نوروته غزوی؟ پوه شه چی کسب دکارپیل اوبدایت دی اوتوکل یی نهایت، ولی په تاکی نه بدایت وینم اونه هم نهایت. زه حق وایم اوله تاڅخه باک هم نلرم، واوره اوقبول یی کړه، دحق دغوښتنی سره جدال مکوه. زه له خلکو اوله هغه څه چی په لاس کی لری ، اوستاسو دمدح اوذم(ستاینه اوغندنه) څخه بی نیازه یم، زما وینا په حکم کی ستاسو لپاره دیوی محکمی ضربی پشان ده، اوزه دهغی په اداء کولو سره دخدای عزّوجلّ په فرمان ناچاره یم، اوداهم واوری چی دخدای حکم لره ناسخیت نشته ، اوڅوک نشته چی مانع یی وګرځی.

وای پرتا! دخلکو وینا تامغروره نکړی، ته ځان پیژنی اوپوهیږی چی په کومه لاره روان یی، متعال خدای فرمایلی: (بَلِ الْاِنْسانُ عَلی نَفْسِهِ بَصِیرةٌ)-«پوه شی چی ددنیا ژوند لوبه اوسرګرمی اوسینګاردی. سوره حدید آیه ۲».

نادانان ناقص العقل دی، پوه شه چی دلوبو اوپه دنیا دبوخت کیدو لپاره نه یی پیداشوی، هغوی چی په دنیا سرګرم دی، له آخرت سره یی پریکړون کړی اوپه دنیا قانع شوی. هغه څه چی دنیا درته وړاندی کوی ماراولړم اوزهردی، چی دشهوت اودنفس دهوا په لاسونو یی ترلاسه کوی. په آخرت بوخت شی، خدای ته راوګرځی، اوهغه څه چی دفضل

اوعنایت په لاسونو درکول کیږی واخلی. ددنیا اوآخرت په هکله نیک سوچ وکړی، اودهغوی توپیرومومی اوپوه شی چی کومه بهتره ده، که نیک فکر وکړی نو هغه څه چی زما سره دی په هغه به آگاهی حاصله کړی، اووبه گوری چی زما کښت شین اوزرغونیږی اووده مومی، اوهغه څه چی تاکرلی مړه اوداورطمع به وگرځی. عاقل اوسه ځای اوریاست طلبی پریږده، اودمریدانو دجماعت دیوه په شان زما خواته راشه ، کښینه ترڅو دخپلو ویناو دانی ستا په زړه کی وکرم. هغه څوک هوښیار دی چی زما سره یی په ناسته کی پایداری کړی،اوهغه چی ایمان ورسره نشته له ما تیښته کوی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقناعذاب النار».آمین!**